
# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲۶مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱۶مه | ۶۴۷مه ګڼه


کتاب
۴ مخ

## د اسیا زړه
### د افغانستان د ولایتونو پېژندنه



په ټوله کې دا کتاب لوستونکو ته د افغانستان د جغرافیې، ولایتونو، ولسوالیو، تاریخي ځایونو، مشاهیرو، طبیعي زېرمو، دودونو او فرهنګ په اړه وروستي معلومات ورکوي. د کتاب لیکوال د یاد کتاب په سریزه کې وایي: «هېڅوک له سفر څخه وروسته هغه شخص نه راستنېږي، کوم چې په لومړي سر کې و.

## کرنې وزارت: روان کال په پکتیا کې ۹۰۰ ټنه شات تولید شوي دي



کرنې وزارت وایي، په پکتیا کې د شاتو مچیو د روزنې وضعیت په بې ساري توګه مخ په ښه کېدو دی.
د یاد وزارت شمېرې ښیي چې په دغه ولایت کې د شاتو مچیو شاوخوا ۴۵۰ واړه او لوی فارمونه شته، چې د شاتو تولید سږنۍ کچه یې نږدې ۹۰۰ ټنو ته رسېدلې ده.
بلخوا د پکتیا د څارویو روزنې او روغتیایي چارو آمر محمد کبیر اسلیمي هم وایي، چې د پکتیا د ولایت په کچه د شاتو مچیو ۴۵۰ فارمونه فعالیت لري، چې له یادو فارمونو څخه سږکال ۹۰۰ مټریک ټنه شات تولید شوي دي.
د اسلمي په خبره، د پکتیا د شاتو په شاوخوا ۴۵۰ فارمونو کې د شاتو له ۹۵ زرو څخه تر ۱۰۰ زره صندوقه مچۍ روزل کېږي. یادې مچۍ ډول ډول شات تولیدوي، چې له دې ډلې خورا مشهور یې شنشوبی، لاچي، سپېرکۍ او سنځله دي، چې په دغه ولایت کې ډېر تولید او مینه وال لري.

# د جګړو او تاوتریخوالي زیاتوالی؛
## امریکا او افغان حکومت اوسنی تاوتریخوالی بوږنوونکی بولي او د کمېدو غوښتنه یې کوي



۳

د بین الافغاني خبرو د بیا پیل د ځنډولو هڅه کېږي؟
۲ مخ

خلور لاملونه چې طالبان ولې اوربند نه کوي
۲ مخ

د چین او جنوبي اسیا تلپاتې نندارتون
۳ مخ

## بشري حقونو کمېسیون:
## د هدفي وژنو روانه لړۍ دې ژر تر ژره ودرول شي

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون مشرې شهرزاد اکبر ویلي چې پر ملکي وګړو هدفي وژنې د منلو نه دي او ژر تر ژره باید دې چارې ته د پای ټکی کېښودل شي.
نوموړې پر خپل ټویټر په کابل او غور کې د دوو دولتي چارواکو وژل کېدو ته په اشارې ویلي، هدفي وژنې هره ورځ د بې ګناه افغانانو ژوند اخلي او دا چاره نور هېڅ افغان ته د زغم وړ نه ده. نوموړې دا څرګندونې په داسې حال کې کوي، چې تېره ورځ د کابل مرستیال والي محبوب الله محبي په کابل او د غور ولایتي شورا مرستیال د یاد ولایت په مرکز کې د چسپکي ماینونو د چاودنو په پایله کې ووژل شول.
بشري حقونو خپلواک کمېسیون داسې مهال په هېواد کې د هدفي وژنو په اړه اندېښنه ښیي چې په دې وروستیو کې د سولې په خبرو کې له پرمختګ سره سره، د هېواد په لویو ښارونو کې هدفي وژنې او د چسپکي ماینونو چاودنې په بې ساري ډول زیاتې شوې دي. په دغو چاودنو او بریدونو کې تر ډېره حکومتي چارواکي، پولیس، قومي مشران، سیاسي مشران او مخور په نښه کېږي.
که څه هم حکومت بیا بیا ژمنه کړې چې دوی هڅه کوي چې د دغه چاودنې او بریدونه مهار کړي، خو د ژمنې خلاف دا ډول بریدونه او وژنې ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي.

## کوبیا:
## رواني جګړې او تاوتریخولی د سولې بهیر نور هم ستونزمنوي





۲ مخ

## حقوقدانان:
## حکومت در مورد ادامه کار سرپرستان برخورد سلیقه یی می کند




کمیتهٔ مستقل مبارزه با فساد اداری و حقوق دانان حکومت را در کار عملی شدن قانون اساسی در بارهٔ پایان یافتن ادامه کار چهار نامزد وزیر و رئیس بانک مرکزی همچون سرپرستان، به برخورد سلیقه یی متهم می سازند و می گویند که رئیس جمهور با ادامه کار این پنج تن، پس از رد شدن شان از ولسی جرگه، قانون اساسی را خود نقض کرده است.
ریاست جمهوری نیز بی آن که از معرفی چهره های تازه به جای این سرپرستان اطلاعاتی به دست بدهد می گوید که آنان به کار های ادامه خواهند داد.
ادامه کار رنگینه حمیدی، طاهر زهیر، مجیب الرحمن کریمی، حسینه صافی و اجمل احمدی همچون سرپرستان، وزارت های معارف، اطلاعات و فرهنگ، انکشاف دهات، زنان و نیز رئیس بانک مرکزی که رای اعتماد اعضای ولسی جرگه را به دست آورده نتوانسته اند، با انتقادهایی روبه رو شده است.
آرش شهیر پور حقوق دان گفت: «ماده پنج قانون سرپرستی واضح و روشن حکم صریح دارد که اگر نامزد ی رای اعتماد از مجلس نگیرد به هیچ صورت، نمی تواند در عین اداره در آن پست به حیث سرپرست کار کند. ادامه کار این وزرا و رئیس بانک مرکزی خلاف تمام ارزش های حقوق و قانونی افغانستان است و هر عملی را که انجام میدهند در مخالفت با قانون و بنای باطل بر باطل است.»

سرلیکنه

## د بین الافغاني خبرو د بیا پیل د ځنډولو هڅه کېږي؟

د سولې په خبرو کې له ځنډ سره دوې لويې اندېښنې را پورته شوې دي: يو دا چې د دغه ځنډ په وخت کې تاوتريخوالي همغسې روان دی او لا زياتېږي. دويم دا چې هسې نه خبرې بېرته په ټاکلي وخت پيل نه شي، ځکه چې ځينې کړۍ سر له اوسه هڅه کوي چې د خبرو د بيا پيل پر وړاندې ستونزې او خنډونه جوړ کړي. وړمه ورځ د افغان سولې لپاره د امريکا د ځانګړي استازي په وروستيو ټويټونو کې همدې دواړو موضوعاتو ته اشاره شوې ده. خليلزاد ليکلي چې د مذاکراتو په بيا پيل کې دې هېڅ راز ځنډ نه راوستل کېږي او تاوتريخوالی بايد کم شي.

په خبرو کې دا ځنډ په داسې وخت کې راځي چې په امريکا کې د ډونالډ ټرمپ د واک موده ختمېږي او بايډن ته د واک د لېږد لپاره تياری روان دی. يوه پوښتنه او اندېښنه دا ده چې بايډن به د افغان سولې له پروسې سره څه ډول چلند کوي. که څه هم ويل شوي چې بايډن به د ټرمپ تګلاره تعقيبوي، خو تر هغه چې بايډن په رسمي ډول واک اخلي او بيا خپله تګلاره روښانوي، د جګړې ښکېل اړخونه، په ځانګړي ډول افغان چارواکي فکر کوي چې د يو څه وخت لپاره د امريکا له فشار څخه خلاص دي. زلمی خليلزاد کابل ته را روان دی او دلته به له چارواکو سره پر سوله خبرې وکړي، خو حکومتي اړخ داسې فکر کوي چې د خليلزاد دنده ختمېږي، نو ځکه به يې ښايي خبرې او پيغام د تېر په شان جدي ونه ګڼي.

د افغانستان حکومت په همدې ځنډ کې دا بحث را پورته کړی چې بين الافغاني خبرې بايد په افغانستان کې وشي. که څه هم دا ښه غوښتنه ده، خو نه عملي ده او نه هم د دې لپاره مطرح شوې چې خبرو ته يې ګټه ورسېږي. په ارګ کې واکمن هڅه کوي چې د دغه ډول بحثونو په راپورته کولو سره هم ځان پر خلکو ګران کړي او هم د بين الافغاني خبرو د بيا پيل پر وړاندې خنډونه جوړ کړي، څو دا خبرې وځنډېږي او ژر پيل نه شي. که څه هم حکومتي چارواکو داسې څه نه دي ويلي چې دوی به بين الافغاني خبرې په دې شرط پيلوي چې په افغانستان کې وي، خو له خبرو يې همداسې اخيستنه کېدلی شي، ځکه په واضح ډول په قطر کې خبرې بې ګټې او بې پايلې ګڼي.

دا سمه ده چې په بين الافغاني خبرو کې تر اوسه لوی پرمختګ نه دی راغلی، تاوتريخوالی روان دی او د خلکو هيلې نه دي پوره شوي، خو خبرې بايد دوام وکړي. همدې خبرو ته د خلکو هيلې دي، که دا خبرې لږ او ورو پرمختګ هم وکړي، بيا هم لاسته راوړنه ده او له خبرو پرته بله لاره هم نشته. دا خبرې به اوږدې، لانجمنې او سختې وي، خو بيا هم بايد دوام وکړي او په هېڅ ډول بايد بندې نه شي او يا داسې شرايط وړاندې نه شي چې د خبرو د بندېدو سبب شي. له همدې امله خبرې بايد دوام وکړي او ورسره دواړه اړخونه تر وروستي بريده هڅه وکړي چې تاوتريخوالی راکم کړي.

# څلور لاملونه چې طالبان ولې اوربند نه کوي

ليکنه: هاشم وحدتيار

د افغان سولې پروسې د بين الافغاني خبرو حساس پړاو پيل شوی دی. د دواړو لوريو د وروستيو پرمختګونو له کبله د سولې لپاره تمې ډېرې شوې دي. لومړی دا چې افغان حکومت او طالبانو د مذاکراتو پر طرزالعمل موافقه وکړه او دويم د افغانستان د مصالحې عالي شورا پرانيستل شوه.

د امريکا متحده ايالتونو له لوري تر دوه کاله هڅو وروسته، بالاخره طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کېناستل. دغه خبرې اوسمهال د ترلو دروازو تر شا دوام لري، ترڅو په وسيله يې د افغانستان ۴۰ کلنه جګړه ختمه شي. مذاکراتي ډلې که څه هم اوس د يوې لنډې مودې لپاره په رخصتۍ تللې دي، خو په دې وروستيو کې پر دې بوخت وې چې د اجنډا موضوعات ترتيب کړي. د امريکا او طالبانو د هوکړې پر اساس، طالبانو په افغانستان کې د امريکايانو پر وړاندې اوربند اعلان کړی، خو دغه ډله لا هم په پر له پسې توګه د افغان حکومت پر وړاندې جګړې ته دوام ورکوي چې په دغو جګړو کې ډېری وخت ملکيان هم وژل کېږي او ټپيان کېږي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سياسي دفتر يا يوناما راپورونه ښيي چې د ۲۰۲۰ ز کال له جنوري څخه تر سپټمبر مياشتې پورې د افغانانو مرګ ژوبله ۵۹۳۹ تنو ته رسېدلې ده.

نړيواله ټولنه او افغان حکومت طالبان هڅوي چې اوربند وکړي، خو دا ډله زړه نا زړه ده. اوس مهمه پوښتنه دا ده چې طالبان ولې اوربند نه کوي؟ څلور لاملونه يې دا دي:

**لومړی- طالبان خپل جنګيالي له لاسه ورکوي**

په اوربند کې طالب جنګيالي لويو ښارونو ته د تګ لېوالتيا لري، چې د حکومت تر واک لاندې دي او دوی کله هم دا ښارونه نه دي ليدلي. د ۲۰۱۸ز کال په جون مياشت کې طالبانو د لومړي ځل لپاره د اختر په مناسبت درې ورځنی اوربند وکړ او د راپورونو له مخې، زرګونه جنګيالي يې له دې اوربند وروسته د جنګ ليکو ته ستانه نه شول. د طالبانو اکثره جنګيالي په لېرې پرتو کليو کې اوسېږي چې ښارونه يې نه دي ليدلي. دوی ته داسې ويل کېږي او تر ډېره د ښار مېشتو په اړه ناسم معلومات ورکړل شوي، اوس طالبان له دې وېره لري چې که جنګيالي يې ښارونو ته لاړ شي، ښايي له جګړې به لاس واخلي.

**دويم- اوربند په طالبانو کې خپلمنځي اختلافونه پيدا کوي**

ښايي په قطر کې د دوی سياسي رهبري اماده شي چې اوربند وکړي، خو په افغانستان کې د دوی جنګي قوماندانان اوربند نه غواړي او پر دې ټينګار کوي چې په زور به ټول هېواد نيسي. په قطر کې د دوی له سياسي مشرتابه سره جوړجاړی تر ډېره اسانه دی. په ۲۰۱۳ ز کال کې کله چې په دوحه کې د طالبانو دفتر پرانيستل شوی، د دوی سياسي رهبري په دې پوهېږي چې د امريکايي ځواکونو له تګ وروسته که دوی حکومت هم ونيسي، خو د نړيوالو له مرستو پرته به پايښت ونه لري. بل خوا په افغانستان کې د طالبانو قوماندانان پر دې باور دي چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې پر اساس، که بهرني پوځيان له افغانستانه ووځي، دوی کولای شي په زور افغان حکومت ړنګ او د هېواد واک د ځان کړي.

طالبان پر دې هم باور نه لري چې ايا ټول قوماندانان به يې د اوربند خبره ومني او کنه. په دې وروستيو کې له متحده ايالتونو او افغان حکومت سره د خبرو پر مهال د طالبانو خپلمنځي توپيرونه په ښه ډول ځرګند شوي دي. سږ کال په مې مياشت کې چې دوی درې ورځې اوربند اعلان کړ، د اعلان باوجود يې ځينو عناصرو بريدونه ترسره کړل چې ۱۴ افغان پوځيان پکې ووژل شول. دا لومړی ځل نه و، بلکې د ۲۰۱۸ ز کال په جون کې لومړنی اوربند هم په بشپړه توګه رعايت نه شو او د طالبانو په حملو کې تر ۴۰ پورې امنيتي سرتېري ووژل شول. اوس که بيا طالبان اوربند کوي، د تحريک په دننه کې ځينې کسان ترې سرغړونه کوي چې ورسره د دې ډلې پر يووالي باندې د افغانانو او نړيوالو شکونه نور هم زياتېږي او دا وېره زېږوي چې که سوله وشي، تر بل بيرغ لاندې به بيا هم جګړه روانه وي.

په کابل کې د داعش وروستيو بريدونو د سولې پر پروسې لا شکونه زيات کړي دي. افغانان پر دې باور دي چې که د داعش بريدونه دوام کوي، نو له طالبانو سره هم سوله بې مانا ده او د تلپاتې ثبات سبب نه شي کېدای. طالبانو ادعا کړې چې په افغانستان کې يې داعش له منځه وړی، خو اوس که طالبان اوربند کوي، داعش به پياوړی شي او له طالبانو سره خبرې به افغانستان ته دايمي سوله را نه وړي، دا خبره به له طالبانو سره له سولې وروسته ثابته شي.

**درېيم- اوربند به طالبان د خپلو هدفونو ته د رسېدلو واټن زيات کړي**

طالبان دوه هدفونه لري: لومړی له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو وتل او دويم واک ته رسېدل. د امريکا او طالبانو د هوکړې په اساس، امريکايي پوځيان به په ۱۴ مياشتو کې له افغانستان څخه وځي. طالبان په وياړ وايي چې تحريک يې په جګړه کې بريالی شوی دی. همدارنګه ولسمشر ډونالډ ټرمپ اعلان وکړ چې ټول پوځيان به له افغانستان څخه وباسي. له دې سره طالبان نور هم پر دې باوري شول چې د خپل بل هدف پر لور (په افغانستان کې د اسلامي امارت قايمولو) ته نږدې شوي دي. اوس که طالبان اوربند کوي، هدف ته د رسېدلو لپاره خپله اصلي وسيله چې جګړه ده، له لاسه ورکوي او له خپلو هدفونو لرې کېږي.

**څلورم- طالبان غواړي د اوربند په بدل کې ډېر څه تر لاسه کړي**

د جګړې دوام د خبرو پر ميز طالبانو ته امتياز ورکوي. طالبان يوازې هغه مهال اوربند ته چمتو کېږي، چې د افغانستان حکومت د دوی درانه شرطونه ومني. په دې لړ کې د ۷۰۰۰ طالب بنديانو خوشې کول، د اوسني حکومت ختمول او طالبانو ته هېواد سپارل شامل دي چې له هغې وروسته به طالبان پکې له نورو افغان سياستوالو سره ګډ حکومت جوړ کړي. په قطر کې د طالبانو سياسي مشرانو په امريکا کې له مېشتو افغان مبصرينو سره په خبرو کې وويل، چې که طالبان اوربند وکړي، د دوی په خبره د کابل اداره به خپلې واکمنۍ ته دوام ورکړي او د سولې بهير به جدي نه ګڼي.

جګړه د طالبانو يوازينۍ امتيازي وسيله ده، که د اوربند په ترڅ کې دا هم له لاسه ورکړي، بيا دوی داسې څه نه لري چې خپلو موخو ته پرې ورسېږي، خو د اوربند په ردولو کې د دوی محاسبه ناسمه ده. دوی که ټول هېواد هم ونيسي او پر افغانانو خپل واک وچلوي، خو بيا به هم د هغوی پر زړونو او ذهنونو واکمنۍ ونه لري. اوږدمهالی اوربند د ټولو افغانانو لومړی او اساسي غوښتنه ده. تر هغه چې طالبان اوربند ونه کړي، د افغانانو له نيوکو سره به مخ وي.

## فيفا: ولسي جرګه دې د ټاکنو د قانون تقنيني فرمان په اجنډا کې نه شاملوي

ولسمشر غني د ۱۳۹۷لمريز کال د کب په لومړۍ نېټې د ټاکنو په قانون کې د تعديل او زياتوالي طرحې په اړه تقنيني فرمان صادر کړ، چې له مخې يې تېرې د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره شوې.

خو د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنست يا فيفا وايي چې په دغه تفنيني فرمان کې بېلا بېلې ستونزې دي او اړينو اصلاحاتو ته اړتيا لري. فيفا پر نورو مسايلو سربېره، په دغه تقنيني فرمان کې د جمهوري رياست د کانديدانو له لوري د کمېشنرانو ټاکل او د شکايتونو کمېسيون دايمي کېدل، تر ټولو لويې او جدي ستونزې بولي.

د دغه بنسټ اجرايوي رييس يوسف رشيد تېره ورځ په کابل کې خبريالانو ته وويل، ټاکل شوې چې دغه فرمان د ولسي جرګې په عمومي غونډه کې رايو ته وړاندې شي.

هغه زياتوي: «تاييد او رد دواړه حالتونه يې موږ ته د اندېښنې وړ دي، که مشرانو جرګه يې هم رد کړي، نو موږ بېرته د ۲۰۱۸ ميلادي کال د انتخاباتو قانون ته ځو چې ډېرې ستونزې يې درلودې، که تاييد شي، نو هغه ستونزې چې په اوسني قانون کې شته، هغه پرځای پاتې کېږي، نو لازمه ده چې له اجنډا وايستل شي».

رشيد زياتوي چې د عدليې وزارت او انتخاباتي کمېسيونونه دې په دې اړه يوه نوې هر اړخيز طرحه جوړه او له قانوني پړاوونو وروسته دې د تصويب لپاره کابينې او بيا ملي شورا ته ولېږي.

خو د ولسي جرګې اداري پلاوی وايي چې د رييسانو کمېټې د ولسمشر تقنيني فرمان د بحث لپاره د نن ورځې په اجنډا کې شامل کړی دی.

د دغې جرګې لومړی منشي اسدالله شهباز وايي: «تقنيني فرمان راغلی، د رييسانو کمېټې په اجنډا کې نيولی، ممکن د انتخاباتو قانون هم د بحث لپاره عمومي غونډې ته وړاندې شي، وکيلان په دې اړه دوه خولې دي، ځينې وايي، بايد بحث ورباندې وشي او ځينې بيا وايي بحث ورباندې ونه شي، خو تراوسه هم وروستی تصميم نه دی نيول شوی.»

د يادونې ده چې په ۲۰۱۴ ز کال کې کله چې په افغانستان کې د جمهوري رياست ټاکنې جنجالي شوې، له سياسي هوکړې وروسته د ټاکنيزو قوانينو د اصلاح پرېکړه وشوه.

که څه هم د ۲۰۱۹ ز کال ټاکنې د تقنيني فرمان پر بنسټ ترسره شوې، خو بيا هم مخکښو ټيمونو د ټاکنو پايلې ونه منلې او يو ځل بيا د يوې سياسي هوکړې اړتيا رامنځته شوه.

## <u>کوبيا:</u> رواني جګړې او تاوتريخولی د سولې بهير نور هم ستونزمنوي

په قطر کې د دريو اونيو لپاره د سولې د مذاکراتو له ودرولو سره هممهاله اروپايي ټولنې ويلي چې په افغانستان کې د تاوتريخوالي دوام به د سولې خبرې له ستونزو سره مخ کړي.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې استازي رولان کوبيا په دې وروستيو کې د تاوتريخوالي پر زياتوالي په ځانګړي ډول هدفي وژنو په تړاو اندېښنه ښودلې او هيله يې څرګنده کړې چې د مذاکراتو له درولو سره هممهاله په افغانستان کې د هدفي وژنو لړۍ هم ودرول شي.

کوبيا پر خپل ټويټر ليکلي: «که وضعيت په همدې ډول روان وي، نور نو دلته جګړه او خبرې نه کېږي، بلکې يوازې جګړه به وي. دا د افغانستان د سولې تنکی بهير نور هم ستونزمن کولی شي».

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د دولت او طالبانو د سولې مرکچي پلاوو د ډسمبر په ۱۲مه په يوې ګډې اعلاميې کې د ۲۰۲۱ ز کال د جنوري تر پنځمې د مذاکراتو د درولو خبر ورکړ. د سولې د مذاکراتو پر اجنډا لا زيات بحث او سلامشورې د سولې د خبرو د درولو لامل بلل شوی دی.

په ورته مهال ولسمشرغني د امريکا د متحده ايالتونو د کانګرېس له مشرې نانسي پلوسي او د مجلس له يو شمېر استازو سره د افغان سولې د بهير په تړاو خبرې کړې دي.

ارګ په يوه بيان کې ويلي، دغه خبرې چې د ويډيوکنفرانس له لارې ترسره شوې، دواړو لوريو له افغانستان سره د امريکا د متحده ايالتونو د دوامداره ژمنې، د سولې پروسې او د راتلونکو پړاوونو، د ښځو حقونو او اوربند پر بيړنۍ اړتيا بحثونه کړي دي.

په بيان کې راغلي، چې ولسمشر غني او پلوسي په افغانستان کې د تاوتريخوالي د لوړې کچې په تړاو اندېښنې څرګندې کړې دي. د تاوتريخوالي د دوام په تړاو دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې ولسمشر غني په افغانستان کې دننه د سولې د مذاکراتو د بل پړاو په ترسره کېدو ټينګار کړی دی.



# د چین او جنوبي اسیا تلپاتې نندارتون

لیکنه: شي مونګ/ ژباړه: یاسمین



د چین او جنوبي اسیا د ۲۰۲۰ ز کال انلاین نندارتون د ډسمبر په ۱۲مه پرانیستل شو، چې نوم یې (( د چین او جنوبي اسیا تلپاتې نندارتون)) دی. د کرونا وبا د اغېزو پر وړاندې په نوموړي نندارتون کې ګډون ته د ګڼ شمېر تصدیو او سوداګرو شوق نه دی کم شوی. دغه نندارتون د دوی د اړتیاوو د پوره کولو لپاره په لومړي ځل په انلاین ډول جوړ شوی. که څه هم دغه نندارتون په انلاین نندارتون بدل شوی، خو د ګډونوالو شمېر یې د تېرو دورو په پرتله کم شوی نه دی چې دغه وضعیت له چین سره د تجارتي تګ راتګ په اړه د افغانستان په شمول د جنوبي اسیا د اتو هېوادونو اعتماد لا ټینګ کړی او د خوځنده ځواک لپاره یې ماحول برابر کړی دی.

چین د نړۍ تر نورو هېوادونو لومړی د کرونا وبا وضعیت کنترول کړی او اقتصادي مثبت پرمختګ یې رامنځته کړی دی. له جنورۍ څخه تر نومبر پورې د چین د وارداتو او صادراتو عمومي ارزښت ۲۹۰۴۰ میلیارده یوانه دی او د زیاتوالي انډول یې یو اعشاریه اته دی چې د امریکایي ډالرو په معادل د وارداتو او صادراتو ارزښت یې ۴۱۷۰ میلیارده امریکایي ډالره دی او د زیاتوالي انډول یې صفر اعشاریه شپږ سلنه دی. دا د کرونا وبا له خپرېدو وروسته لومړی ځل دی چې د چین د وارداتوا و صادراتو ارزښت زیاتوالی رامنځته شوی. د دې ترڅنګ چین د کرونا وبا د وقایې او کنټرول په نړیوالو همکاریو کې رېښتینې اقدامات ترسره کړي چې تر خپلې وسې پورې تر دوو سوو زیاتو هېوادونو او سیمو ته یې وقایوي مواد صادر کړي او د انسانانو د روغتیا او طبي چارو ګډې ټولنې د ابادۍ لپاره یې په دې توګه د پام وړ هڅې کړې دي. برسېره پر دې، په چین کې د تولیدي چارو نظام په چټکۍ سره اعاده شوی چې چین د دغو کوښښونو له لارې د کرونا وبا په موده کې د بېلابېلو هېوادونو د خلکو د ژوند او کار اړتیاوې پوره کړې او د نړیوال صنعتي ځنځیر د ثابت دوران لپاره یې مثبت رول لوبولی دی. چین د وارداتو د زیاتوالي لپاره فعال ګامونه پورته کړي چې له امله یې د نړۍ د وارداتو په عمومي اندازه کې د چین ونډه صفر اعشاریه اته سلنه زیاته شوې ده، دا د نړیوال اقتصادي او سوداګریزې همکارۍ د فعالیت لپاره د چین بل مهم خدمت دی.

په یاد حالت کې پرانیستل شوی د چین او جنوبي اسیا انلاین نندارتون د بېلابېلو هېوادونو پاملرنه راجلب کړې. د معلوماتو له مخې، د جنوبي اسیا د ۸ هېوادونو او د جنوب ختیځې اسیا ۱۰ هېوادونو په شمول د څه باندې ۹۰ هېوادونو ۹۳۰۰ تصدۍ په دغه نندارتون کې ګډون لري. ډېر خوشاله یم چې د ګډونوالو په لېست کې مې د څو افغان تصدیو نومونه هم لیدلي او سوداګریزې چارې یې د زعفرانو، غالیو او لاسي صنعت په شمول له زیاتو صنعتونو سره تړاو لري. افغانستان د چین نږدې ګاونډی هېواد دی او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریز تګ راتګ پټ قوت لوی دی. لومړی، د چین د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ښه تمایل څرګند دی. چین د نړۍ دویم لوی اقتصاد دی او د منځني عاید لرونکو کسانو شمېر یې د نړۍ تر ټولو هېوادونو زیات دی. چین به د کورني دوران په محور د کورني او بهرني دواړو دورانونو د متقابل تحریک په بنه د پرمختګ نوی شکل جوړ کړي. دویم، چین او افغانسان د صنعتي چارو په برخه کې یو بل بشپړولی شي. له یوې خوا، د چین په بازار کې د افغانستان د ښه کیفیت کرنیزو او حیواني تولیداتو ته زیاتې اړتیاوې شتون لري. له بلې خوا، په چین کې افغان سوداګر هر کال د افغان بازارونو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره له چین څخه ګڼ شمېر د ښه کیفیت او ټیټې بیې ورځني اړتیا توکي او صنعتي تولیدات اخلي. دریېم، افغانستان د منځنۍ اسیا او د ختیځې اسیا وصل ځمکنی پل بلل کېږي او دغه مهم مقام یې د یو کمربند او یوې لارې پېشنهاد په چوکاټ کې لا څرګند او ارزښتناک دی. د افغانستان تولیدات د چین او افغانستان ترمنځ د هوایي دهلېز او ځانګړو باروړونکو اورګاډیو له لارې چین ته لېږدول شوي چې افغان بزګرانو او مالدارانو ترې ډېرې ګټې اخیستې دي.

د چین او جنوبي اسیا انلاین نندارتون د چین او افغانستان ترمنځ د سوداګریزو همکاریو لپاره یوه نوې کړکۍ پرانیستې ده. د کرونا وبا په وړاندې، نړۍ او د سیمې بېلا بېل هېوادونه باید خپلمنځي همکارۍ پیاوړې کړي او په ګډه دې ستونزې لیرې کړي. نوموړی نندارتون به د چین د یون نان ولایت د جغرافیایي وړتیا او د دیجټلي تکنالوژۍ د پرمختګ په رڼا کې د دغه هېواد او د جنوبي آسیا او جنوب ختیځې آسیا د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو لپاره مناسب نوی خوځنده ځواک برابر کړی دی. نندارتون تلپاتې دی او سیمه ییزې همکارۍ تل پاتې دي! زه د چین او افغانستان ترمنځ د سوداګریزې همکارۍ د ښې راتلونکې په اړه پوره باور لرم!

# د جګړو او تاوتریخوالي زیاتوالی؛

## امریکا او افغان حکومت اوسنی تاوتریخوالی بورنوونکی بولي

## او د کمېدو غوښتنه یې کوي



په هېواد کې وروستي ډېرېدونکي تاوتریخوالي غبرګونونه پارولي دي. سره له دې چې په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مذاکراتو شاوخوا درې میاشتې دوام وکړ، خو په کور د ننه یې جګړې کمې نه کړې، بلکې ورځ تر بلې تاوتریخوالی ډېرېږي چې سختې اندېښنې یې پارولې دي. په وروستیو کې د هېواد پلازمېنې کابل په ګډون په ګڼو ولایتونو کې چاودنو، نښتو او هوایي بریدونو زور اخیستی دی. افغان چارواکي بیا طالبان د دې تاوتریخوالي د ډېرېدو لامل بولي، امریکا بیا ټینګار کوي چې اوسنی تاوتریخوالی باید کم کړل شي. په وروستیو اونیو کې په کابل ښار کې نږدې هره ورځ د مقناطیسي ماین چاودنه کېږي چې خلکو ته مرګ ژوبله اړوي. پرون سهار شاوخوا لس بجې د کابل ښار په زړه کې په تر ټولو امنه سیمه کې د کابل د والي د مرستیال محبوب الله محبي پر موټر د مقناطیسي ماین چاودنه وشوه چې له امله یې دی له خپل سکرتر سره یوځای ووژل شو. په دې پېښه کې یې دوه ساتونکي ټپیان هم شول. بلخوا په غور کې هم د مقناطیسي ماین چاودنې د دغه ولایت د ولایتي شورا مرستیال وژلی او د ولایتي شورا یو بل غړی یې ټپي کړی دی. د دغو پېښو مسوولیت تر دې دمه کومې ډلې نه دی منلی، خو افغان حکومت یې د طالبانو کار بولي.

ولسمشر غني تېره ورځ په یوه اعلامیه کې په هېواد کې ډېرېدونکی تاوتریخوالی د جدي اندېښنې وړ وباله او په خبره یې، د افغانانو د وژنې او چاودنو مسوول وسله وال طالبان دي. د ولسمشر غني په خبره، طالبان د افغان وژنې له مسوولیت ځان نه شي سپکولی؛ ځکه د سولې پر ځای یې پر جګړې تمرکز ډېر دی. ولسمشر زیاته کړې چې طالبانو په دې وروستیو کې په مخامخ جګړه کې ماتې خوړلې، نو ځکه یې په ښارونو کې هدفي وژنې او چاودنې پیل کړې دي. ولسمشر غني د کابل د مرستیال والي وژل کېدل په کلکو ټکو غندلي او زیاته کړې یې ده چې طالبان د افغان ولس، حکومت او نړیوالې ټولنې د دایمي اوربند غوښتنې په نه منلو او د دوحې له تړون وروسته په لویو لارو او ښارونو کې پر ملکي وګړو او عامه تاسیساتو د زیاتو شویو ترهګریزو بریدونو او چاودنو له مسوولیته خپلې اوږې نه شي سپکولی.

ولسمشر همدا راز په هېواد کې د روان تاوتریخوالي په تړاو خپلې اندېښنې د امریکا د استازو له جرګې سره هم شریکې کړې دي. نوموړي وړمه ورځ ناوخته له نانسي پلوسي سره په ویډیویي کنفرانس کې په افغانستان کې اوسنی وضعیت د اندېښنې وړ بللی او دلته یې د اوربند پر راتګ او دایمي سولې ټینګار کړی دی.

له دې سره جوخت د ملي مصالحې عالي شورا رییس هم وروستی تاوتریخوالی د سولې په لار کې د خنډ جوړولو په مانا بولي. د ده په خبره، د تاوتریخوالي ډېرول د سولې له پروسې سره ښکاره دښمني ده. هغه په کابل کې پروني برید ته په اشارې ویلي، له دې ښکاري چې ترهګرې ډلې په هېواد کې له سوله ییزو لارو د روان بحران ختمول نه غواړي. د ډاکټر عبدالله عبدالله په خبره ((ترهګر غواړي خلک ووېروي، غواړي له سوله ییزو لارو دلته روان بحران ختم نه شي، دوی په دې توګه خلک نه شي وېرولی او ولس به ارو مرو سوله غواړي)).

بلخوا د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم د تاوتریخوالي اوسنۍ کچه د جدي اندېښنې وړ بللې ده. زلمي خلیلزاد پاکستان ته تر سفر مخکې ویلي چې د سولې د مذاکراتو په لار کې باید هېڅ راز خنډ جوړ نه شي، مذاکرات دې بېرته په ټاکلې نېټه پیل شي او دغه راز دې د اوسني تاوتریخوالي کچه ژر تر ژره ټیټه کړل شي. د ده په خبره، تاوتریخوالی په دې وروستیو کې ډېر شوی چې د جدي اندېښنې وړ دی، نو ځکه طالبانو او حکومت دواړو ته په کار ده چې تاوتریخوالی کم کړي او مذاکرات چټک کړي.

د تاوتریخوالي د ډېرېدو په تړاو داسې مهال اندېښنې راولاړېږي چې په دې وروستیو کې د هېواد په ګڼو ولایتونو کې جګړې روانې دي، کابل کې نا امني او چاودنې ډېرې شوې دي او عام افغانان بیا تمه لري چې ژر تر ژره دلته جګړه پای ته ورسېږي او د سولې خبرې پایلې ولري.

# د ایران او امریکا د کړکېچ دوام؛

## متحده ایالتونو د ایران پر لوړپوړو پوځي چارواکو نوي بندیزونه لګولي دي

د امریکا متحده ایالتونو په وار وار له ایرانه غوښتي چې د لوېنسن د خوشې کېدو زمینه برابره او امریکا ته یې ستون کړي، خو ایراني چارواکو ویلي چې د امریکا د دغه وګړي د برخلیک په اړه معلومات نه‌لري.

د رابرت لوېنسن د لادرکۍ پر وخت د ایران د حکومت یوې اړوندې رسنۍ ویلي وو چې دغه سړی د ایران د امنیتي ځواکونو په ولکه کې دی. د امریکا د خزانې وزیر سټیفن منوچن په یوه اعلامیه کې ویلي، د لوېنسن تښتول، د ایران د رژیم یو بل ظلم څرګندوي.

د منوچن په خبره، واشنګټن د هغو کسانو پر وړاندې جدي عمل کوي، چې د لوېنسن په نیولو او احتمالي وژنه کې لاس ولري. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پومپیو په بله اعلامیه کې ویلي چې د رابرت لوېنسن قضیه د انسانانو د ژوند پر وړاندې د ایران د رژیم د بې‌رحمۍ او بې‌غورۍ بل ناوړه مثال دی. پومپیو ویلي، د ایران رژیم په تېرو ۴۱ کلونو کې د بهرنیو او دوه تابعیت لرونکو وګړو د تښتونې او نیونې یوه سابقه لري.

د امریکا د تازه اعلان شویو بندیزونو له مخې، د ایران د استخباراتو د دوو چارواکو چې د محمد بصیري او احمد خازایي په نومونو معرفي شوي، په امریکا کې شتمنۍ کنګل او ملکیتونه ضبطېږي، خو داسې نه ښکاري چې د ایران د استخباراتو دغه چارواکي دې په امریکا کې بانکي حساب یا ملکیتونه ولري.

د رابرت لوېنسن د کورنۍ غړو د امریکا متحده ایالتونو دا اقدام ستایلی او دا یې په دې قضیه کې د عدالت د تأمین پر اوږده لار یو بل ګام بللی دی. تر اوسه ایراني چارواکو د امریکا د دغو تازه بندیزونو په اړه رسماً کوم عکس‌العمل نه دی ښودلی.

امریکا د تحقیقاتو د فدرال ادارې د یوه پخواني مامور په تښتولو، زنداني کولو او احتمالي وژنه کې ایران په مستقیم لاس لرلو تورن کړی دی.

امریکا د ایران د دغه کار په بدل کې، د ایران د استخباراتو پر دوو چارواکو چې د رابرت لوېنسن په وژنه کې په لاس لرلو تورن شوي، بندیزونه ولګول.


لوېنسن چې د ۱۹۴۸ز کال په مارچ میاشت کې زېږېدلی، ۱۳ کاله مخکې د ایران کیش ټاپو ته د سفر پر مهال لادرکه شو. راپورونه وایي چې نوموړي هغه وخت د امریکا د استخباراتو له مرکزي ادارې سره هم د قراردادي په توګه کار کاوه.

## د کتـــاب خبـــري

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سینها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دریمه برخه
**کشمیر**




دوراني: حتی د کارګېل تر کړکېچ، اټومي ازمايښتونو او له اګرې څخه د مشرف له لیدنې وروسته هم زه په دې باور وم چې موږ به بېرته ګډ ډیالوګ ته ستنېږو. ځیرکو کسانو په ډېر دقت کار کړی و چې دا بهیر ژوندی او پیاوړی وساتي. په ورته وخت کې د کشمیر اړوند یوه تحول حیران کړی وم او فکر مې کاوه چې د چاپېریال تر سمېدو پورې به د کشمیر موضوع په لومړیتوب کې نه وي. دواړه پاکستاني او هندي چارواکي د کشمیر په اړه د یوه سمبولیک پرمختګ غوښتونکي وو چې په پایله کې یې د یوه بس پر فعالېدو هوکړه وکړه چې د کشمیر دواړو غاړو ته به چلېږي. ما هیله درلوده چې د بس په دې سمبولیک حرکت کې به نورو موضوعاتو ته هم پام وشي، کشمیریان به په خبرو کې راګډ کړل شي، اسلام‌اباد او ډیلی به پر ورځنیو مسایلو، کلتوري راکړې ورکړې او د نورو اختلافونو پر سیاسي حل خبرې وکړي. خو حتی د عادي موضوعاتو لکه ویزې یا کلتوري پروګرامونو او نورو برخو کې هم پرمختګ ونه لیدل شو. یوازینی پرمختګ په کشمیر کې د بس فعالول و بس. ما وویل حتماً به یو دلیل وي چې هند ولې حتی د کوچنیو ستونزو له حل سره هم لېوالتیا ونه ښوده. د هند دغه دریځ یوه بله نتیجه تداعي کړه: هند نه غواړي چې په اوسني وضعیت کې بدلون راشي، ځکه چې په ګټه یې دی. حتی د مشرف د وړاندې شوې طرحې په اړه چې په هند او کشمیر کې ډېره مشهوره شوه، هېڅ غبرګون ونه ښودل شو. زما اخیستنه دا وه چې هند به د دواړو هېوادونو ترمنځ د باثباته اړیکو په بدلون کې خطر ته غاړه کېښږدي، ځکه ښایي چې داسې یو ډینامیک رامنځته کړي چې بیا به یې کنټرول ستونزمن وي. د هند موخه دا ډول بریښېده: «غر به وښوري، خو ګل محمد نه». ما شوک خوړلی و. همدارنګه د وانې له موضوع وروسته هم وضعیت حیرانوونکی و. هندي لوری له سختو ننګونو سره مخ و او ما په یادو ناستو کې د ګڼو هندي مرکچیانو په خبرو کې اضطراب لیده. هغوی اندېښمن ښکارېدل. ښاغلي دولت وویل چې یو څه به پېښ شي. پېښ شول او زموږ لپاره دومره بد نه بریښېدل، د هدف لپاره په تکتیکي ډول مدیریت شول. د یوه حقیقي پرمختګ لپاره یو څه ته اړتیا لرې؛ یو ستونزمن کار، چې وخت او نرمښت ته اړتیا لري. دا معمولاً نه پېښېږي. خو زموږ لپاره غوره لار شا ته پاتې کېدل او ننداره کول دي.

سینها: د هند تر وېش مخکې کشمیریان د کار لپاره چېرته تلل، چېرته کډوال کېدل؟ د هغوی کلتوري، تجارتي او سیاسي اړیکې له چا سره وې؟ له اوسني هند او که پاکستان؟

دوراني: ښکلې پوښتنه ده. احصائیې ممکن دې ته ځواب ورکړي. د تاریخ په اوږدو کې ګڼ کشمیریان دې لور ته راغلي دي: اقبال، نواز شریف، سلمان تاثیر، د هغه پلار او نور. خو اصلي ځای یې سرینګر-مظفر اباد و. حتی اوس هم په یاده لاره د خلکو لویه ګڼه ګوڼه لیدل کېږي.

دولت: زه فکر نه کوم چې پوښتنې ته به قانع کوونکی ځواب ومومو. هو د جنرال صېب خبره سمه ده، زیاتره کشمیریان چې له درې وتلي دي د سیالکوټ یا اسلام‌اباد په لور تللي دي. خو دا خبره د پنجابیانو په اړه هم صدق کوي. ډېر لږ پنجابیان ډیلي ته کډه شوي دي. په سیمه کې تر ټولو مشهور ښار چې ټول به ورتلل، لاهور و. که د لاهور په ګېمخانه کې دې د ټېنېس لوبه کړې وي یا په لاهور کې ګورنمنټ کالج ته تللی اوسې، نو کافي ده چې پوه شې. کلونه مخکې کله چې زه د کالج شوم، مور مې پلار ته وویل چې څنګه ده که هغه په سټېفن کالج کې داخل کړو؟ پلار مې وپوښتل، سټېفن کالج چېرته دی؟ هغه د لاهور په ګورنمنټ کالج کې درس ویلی و او په دې باور و چې د ډیلي پوهنتون هېڅکله د پنجاب پوهنتون سره د پرتلې وړ نه دی. که وګورو، کشمیر له تاریخي پلوه د عربو په پرتله تر ډېره له ایران او منځنۍ اسیا سره نږدې اړیکې لرلې دي. په سرینګر کې د شتمنو خلکو یوه طبقه ژوند کوي، لکه موږ یې چې په ډیلي یا نورو ښارونو کې لرو. هغه خلک چې پیسې لري، د لوړې طبقې خلک، خوښوي چې دوبۍ ته لاړ شي او هلته مال او پیري. حتی د حفظ الصحې توکي هم په دوبۍ کې پیري. له شک پرته، کشمیریان غواړي چې د هند د پرمختګ داستان برخه شي، ولو که دا بنګلور، ممبیي یا ګوا ته د تګ په مانا وي. خو هغوی به بالاخره په دره کې د پرمختګ لپاره څه هیله ولري؟ که په جنوب کې د معلوماتي ټکنالوژۍ انقلاب شته، نو هلته ولې نه شته؟ کشمیر لا هم زموږ له شتمنو ایالاتونو څخه یو دی. تاسو به په سرینګر کې ډېر لږ سوالګر پیدا کړی. زیاتره کشمیریان د کورونو خاوندان دي. د کلیوالي سیمو له اوسېدونکو پرته چې د غوايي غوښه خوري، نور اکثریت یې د پسه او کبانو غوښې خوري. هغه څه چې هغوی ترې ځوربږي، د هېواد د نورو سیمو او ګړو په پرتله له هغوی سره توپیري چلند دی.

**دوام لري...**


# د اسیا زړه
## د افغانستان د ولایتونو پېژندنه

اکسوس کتابپلورنځی

اسیا زړه د افغانستان د ۳۴ ولایتونو د معرفي په اړه لیکل شوی کتاب دی. کتاب، لیکوال او د پوهنتون استاد حشمت الله نوري لیکلی دی. نوموړي په سپوږمۍ راډیو کې د (راشه ورشه) په نامه معلوماتي خپرونه لرله، چې په هغه کې یې د یوه ولایت بشپړه معرفي کوله. په دې مانا چې په هره خپرونه کې یو ولایت، د هغه ولسوالۍ، فرهنګ، فولکلور، ځانګړې دودونه، موسیقي، مشهور اشخاص، تاریخي سیمې، سیندونه، کانونه او په لنډه توګه هر هغه څه معرفي شوي چې له لوستونکي سره د یوه ولایت په ښه پېژندګلوۍ کې مرسته کوي.

تر دې وړاندې هم داسې کتابونه چاپ شوي دي، خو د اسیا زړه هم د همدې کتابونو په لړ کې یوه هڅه ده. د علمي او معلوماتي کتابونو ډېروالی هېڅ زیان نه لري، بلکې د علمي سرچینو د ډېرېدو سبب ګرځي. کتاب په ښه او روانه ژبه لیکل شوی دی او کسیه ییزه بڼه یې لوستونکی تر پایه له ځان سره ساتي. دا کتاب د هر چا لپاره په درد خوري، په تېره د هغو کسانو لپاره چې غواړي د افغانستان د ولایتونو په اړه معلومات ولري او یا ولایتونو ته په سفرونو بوخت وي.

د کتاب لیکوال هڅه کړې چې د کتاب معلومات دقیق وي. سره له دې چې د ولایتونو په اړه ځینې معلومات بدلېدونکي دي، لکه نفوس، بودیجه، لګښتونه یا دې ته ورته نور موارد، خو په دغه کتاب کې یې د لیکلو تر مودې پورې وروستي معلومات او ارقام ځای پر ځای شوي دي.




په ټوله کې دا کتاب لوستونکو ته د افغانستان د جغرافیې، ولایتونو، ولسوالیو، تاریخي ځایونو، مشاهیرو، طبیعي زېرمو، دودونو او فرهنګ په اړه وروستي معلومات ورکوي. د کتاب لیکوال د یاد کتاب په سریزه کې وایي: «هېڅوک له سفر څخه وروسته هغه شخص نه راستنېږي، کوم چې په لومړي سر کې و. له نوو کلتورونو او خلکو سره اشنا کېدل به ستاسو په ژوند کې ډېر بدلون راولي او بېرته خپل کور ته له ستنېدلو وروسته به یو ښه لیدلوری ولرئ. د بېلابېلو ټولنیزو، کلتوري، صنعتي او مذهبي دودونو پېژندنه او له پالونکو سره یې له نږدې کتل به ستاسې ذهني لرلید ډېر پراخ کړي.

وایي، که غواړئ چې په پوره مانا یو ځیرک او هوښیار کس جوړ شئ، د زده کړو ترڅنګ سفر وکړئ. تاسې به د سفر پر مهال ډېر هغه څه زده کړئ او له ډېر هغو نالیدلو سره به مخ شئ چې تاسې له دې مخکې هېڅ نه دي لیدلي. دا سفر او د هغه ځای په اړه پوره معلومات به نه یوازې دا چې ستاسې تجربې به پخې کړي؛ بلکې ستاسې په ژوند کې به یو ژور بدلون هم راولي، هغه بدلون چې اغېز به یې ستاسې لپاره حیاتي ارزښت ولري.

موږ په همدې موخه چې هم مو په پوره مانا خپل هېواد پېژندلی وي او هم په هغه کې له شته تاریخي، کلتوري، دودیزو، مذهبي او عنعنوي کتلورونو سره ښه اشنا شوي وو، دا کتاب لیکلی دی، څو هر ولایت او تاریخي سیمې ته له تلو مخکې مو د هغه په اړه یو څه معلومات تر لاسه کړي وي».

په ټوله کې د دغه کتاب لوستل د ټولو لپاره ګټور او اړین دي، تر څو وکولی شي چې د خپل هېواد له جغرافیې، نفوس، فرهنګ، د خلکو له دودونو او ژوند څخه خبر شي. یاد کتاب اکسوس کتاب پلورنځي په ۱۸۲ مخونو کې په ښه کیفیت چاپ کړی، مینه وال یې په کابل کې له اکسوس او نورو کتابپلورنځیو ترلاسه کولی شي.

**روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه**

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Eleven Minutes | Paulo Coelho | ۱۳۰؋ |
| ۲ | HONOR | ELif SHAFAK | ۱۷۰؋ |
| ۳ | Sapiens A Brief History of Humankind | Yuval Noah Harari | ۳۸۰؋ |
| ٤ | Zero To One | peter Thiel | ۱٤۰؋ |
| ٥ | Man's Search For Meaning | VIKTOR E. FRANKL | ۱۷۰؋ |
| ٦ | Lessons for the 21th Century 21 | Yuva Noah Harari | ۲۰۰؋ |
| ۷ | Change your THOUGHTS Change your LIFE | WAYNE W. DYER | ۳۳۰؋ |
| ۸ | THE POWER OF HABIT SMATER FASTER BETTER | CHARLES DUHIGG | ۲٥۰؋ |
| ۹ | The Art of Seduction | Robert Green | ٤٥۰؋ |
| ۱۰ | The Leader Who had No Title | Robin sharma | ۲۰۰؋ |
| ۱۱ | THe $100 STARTUP | Chris Gullebeau | ۱٥۰؋ |
| ۱۲ | How to Own Your Own Mind | Napoleon Hill | ۲۰۰؋ |
| ۱۳ | Why Men don't Listen and Women can't Read Maps | Allan& Barbara Pease | ۲۰۰؋ |
| ۱٤ | ELON MUSK Tesla, SpaceX, &the Quest for a Fantastic Future | Ashlee Vance | ٤٥۰؋ |
| ۱٥ | One Word that will change your life | JON GORDON& BRITTON JIMMY PAGE | ۲۰۰؋ |
| ۱٦ | Sales Management | Brian Tracy | ۱۰۰؋ |
| ۱۷ | Personal Success | Brian Tracy | ۱۰۰؋ |
| ۱۸ | A WHOLE NEW MIND WHY RIGHT BRAINERS WILL RULE THE FUTURE | DANIEL H. PINK | ٤۰۰؋ |
| ۱۹ | HIGHT FERFORMANCE HABITS | BREDON BURCHARD | ۳۸۰؋ |
| ۲۰ | ?LINCHPIN: Are You Indispensable | SETH GODIN | ٤۰۰؋ |
| ۲۱ | Every thing is Focked | Mark Manson | ۱٥۰؋ |
| ۲۲ | LEADER SHIFT | JOHN C. MAXWELL | ۳٥۰؋ |
| ۲۳ | THE UNIVERSE HAS YOUR BACK | GABRIELLE BERNSTEIN | ۳۸۰؋ |
| ۲٤ | FIGHT THE FEAR | MANDIE HOLGATE | ۱۳۰؋ |
| ۲٥ | !SAY IT LIKE OBAMA AND WIN | SHEL LEANNE | ۱٥۰؋ |
| ۲٦ | The Pilgrimage | Paulo Coelho | ۱۰۰؋ |
| ۲۷ | Motivate to Win | Richard Denny | ۱۲۰؋ |
| ۲۸ | Business Letters for Busy People | John A.Carey | ۱۸۰؋ |
| ۲۹ | How to Write a Business Plan | Mike Mckeever | ۱۷۰؋ |
| ۳۰ | دآسیازړه دافغانستان دولایتونوپېژندنه | حشمت الله نوری | ۱۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۷۵ |
| € | ۸۹,۲۰ |
| Rp. | ۴۷۵ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# بریا ته د رسېدو لارې چارې

ژباړه: نعیم پرهیز

ټول بریالي انسانان په ژوند کې د ځان لپاره پلان او موخې لري او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره له خپل ټول توان څخه کار اخلي، هغوی د نور په پرتله ډېره هڅه او تر ټولو ډېر کار کوي. هغوی وخت ته ارزښت ورکوي او نه غواړي مجازي نړۍ یې پر پلان او بریا اغېز وکړي. بریالي کسان تل د ځان لپاره موخې لري او هېڅکله له کار څخه نه پر شا کېږي. هغوی د خپل کار مسوولیت په غاړه اخلي او په کړنو یې عمل کوي.

موږ هڅه کوو چې تاسو ته د بریا یو شمېر غوره او ګټورې لارې روښانه کړو، ترڅو ورسره اشنا شی. د دې مقالې په لوستلو سره به هرومرو په خپل ژوند کې د بدلون احساس وکړئ، وړتیا به مو لوړه شي او له وخت څخه به سمه ګټه واخلئ.

**۱ - نوی ژوند جوړ کړئ**

وخت ډېر ارزښت لري او تاسو باید خپل وخت په بې ځایه کارونو ونه لګوئ؛ لکه، بېځایه کېناستل، غیبت کول، بېځایه خبرې، چټ او ... خپلو موخو ته د رسېدو لپاره باید له بېځایه کارونو څخه لاس واخلئ.

کلونه کلونه د هغې دندې لپاره چې نه مو خوښېږي، بېځایه مه تېروئ. په دې باید وپوهېږئ چې هر کس په ژوند کې د رسالت او ځانګړو موخو لپاره د ځمکې پر مخ پیدا شوی دی. که له ژوند څخه مو خوند نه شی اخیستلای او یا ترې راضي نه یاست، هڅه وکړئ چې ژوند ته مو بدلون ورکړئ، ترڅو چې ډېر او سخت کار وکړی او یا مو په ځان کې برسېرن بدلون راولی، ځان په دې وپوهوئ چې ستونزه چېرته ده.

**۲ - یوه شئ چې له ژونده څه غواړی**

په دې پوه شئ چې له ژونده څه غواړی او غواړی چې په راتلونکي کې څه جوړ شي. دا کار د بریا او رضایت یو راز دی، کله چې دا کار ترسره کړی، په ځان کې نوې او ځواکمنې وړتیاوې پیدا کوی چې تاسو د بریا پر لور بیایي.

**۳ - پیسې، وخت او وېره**

اجازه مه ورکوئ، چې د پیسو نه لرل او یا له بریا څخه وېره تاسو ته ماتې درکړي او یا مو د بریا پر وړاندې خنډ شي. فکر وکړئ چې کوم کارونه ترسره کولای شی، هغه ترسره کړی. که پیسې، وېره او وخت ستاسو په مخ کې خنډ نه وای، کوم کارونه مو کول؟ که په دې ډاډه هم وای چې هېڅکله به ماتې نه خوری؟ که تاسو د نړۍ تر ټول شتمن کس وی، هغه وخت به مو د پیسو له ګټلو پرته کوم کار کاوه؟

**۴- پر باید ټینګار وکړئ**

هغه څه چې ستاسو د بریا لپار اړین دي، ډېر تمرکز پرې وکړئ. ممکن وخت، درس او ډېره هڅه یا هم هرڅه چې وي، ځومره ورته والی لري، له هغو کارونو سره چې تاسو یې کوی او هغه کارونه چې ستاسو د بریا لپاره اړین دي، پکې شته دي؟ ایا وخت مو په داسې کارونو او اړیکو لګوی چې وروسته ستاسو لپاره هېڅ ګټه نه لري؟

کله چې خپل کارونه په سم ډول او سمه لاره ترسره کړی، تاسو خپلو موخو ته په نهایي توګه نږدې کوي، ستاسو په خوشالي سربېره، خپلې کاري وړتیا ته قوت ورکړئ، ډېر ژر به خپلې موخې ته ورسېږی.

**۵ - خنډونه کوم او څه دي؟**

د پرمختګ پر وړاندې پراته خنډونه مو وپېژنئ او لار مه ورکوئ چې ستاسو او موخو ترمنځ مو واټن رامنځته کړي. کوم څه مو په شخصي او کاري ژوند کې شتون لري، چې تاسو له خپلو موخو څخه راګرځوي؟ همدا اوس د بریا کوم غمی په لاس کې نه لری؟

**٦ - لومړي لس قدمونه**

همدا اوس د هغو لسو قدمونو لېست جوړ کړئ چې په اوچتولو سره یې تاسو بریا ته رسېږی، د دې کار په ترسره کولو سره مو ټول خنډونه او مسایل حل کړئ. دا د هغې وړاندینۍ پوښتنې «کوم څه مو په شخصي او کاري ژوند کې شتون لري چې تاسو له خپلو موخو څخه راګرځوي؟» ځواب دی او باید تاسو ته وویل شي چې څه وکړی، ترڅو وکولای شی ستاسو پر وړاندې پراته خنډونه لرې کړی. د مثال په ډول، د ځانګړې روزنکي ټاکل، د سګرېټو پرېښودل، غوره خواکي توکي کارول؛ لکه، سابه، کمه غوسه کول، د بهرنیو ژبو زده‌کړه، سپورت، د غوره او ګټورو کتابونو مطالعه، لږ ټلویزیون کتل، بیلابېلو ټولګیو ته تګ، د پور ورکړه، د وزن کمول، د خوب د ویده کېدو او پاڅېدو د وخت تنظیم، د کور پېرل، انسان دوستانه او د خیر کارونه کول، ډېره خندا، په خپلو ژمنو عمل، له بې وعدې توب څخه پرهېز او ډېر غوږ نیول لږ خبرې کول او....

**۷ - لس لومړني کارونه**

اوس د هغو لسو کارونو لېست جوړ کړئ چې باید ترسره کړي مو وای او شاته مو غورځولي، یوازې لېست جوړول بسنه نه کوي، همدا اوس یې ترسره هم کړئ. د مثال په ډول، وړاندینۍ ناستې، مسافري، د کورنۍ لیدل، ځانګړی پلان، له خلکو منه، د پور ادا کول، د اولادونو لپاره وخت ځانګړی کول، د خپل اطاق او یا دفتري مېز پاکول او ...

**۸ - خپل رول د زه «نوی یم» په نوم ترسره کړئ**

وړاندې تر دې چې د نورو ساتنه وکړی یا د نورو په ژوند اغېز ولری، باید خپله دا کار وکړئ چې زه نوی یم. خپلو کړنو ته زیاتوالی ورکړئ او په یو غوره او اغېزمن کس به بدل شی. زه نوی یم، د څلورو لوریو: جسمي، ټولنیز، ذهني او معنوي لرونکی دی.

جسمي: تاسو باید خپل بدن، وزن او دې ته ورته نورو مواردو ته ځیر اوسئ. مناسب وزن، سپورت، غوره خوراکي عادت، پوره خوب او فزیکي ارمتیا هغه څه دي، چې باید پام ورته وشي.

ټولنیز: د مینې او دوستۍ اړیکې، له نورو سره اړیکه، غوښتونکي کارونه، له نورو سره مرسته او ... پکې دي.

ذهني: زده کړئ، کتاب ولولئ، پوښتنه وکړئ، په غونډو او سیمینارونو کې ګډون وکړئ او له ښونیزو مرکزونو او کتابتونونو څخه لیدنه وکړئ.

معنوي: تاسو باید د ځان لپاره موخه وټاکئ، باید د معنا په څار خپل ژوند ته



راوګرځئ، طبیعت ته لاړ شئ، ځینې وختونه یوازې خپل ځانته ځانګړې کړئ تر څو خپل ځان بیا مومئ، ځینې وختونه یوازې د خپل روح غږ ته غوږ ونیسئ او پیروي یې وکړئ. په ټوله کې هغه کارونه ترسره کړئ، چې ستاسو د خوښۍ لامل کېږي.

**۹ - مسوولیتونه او د کړنو اغېزې یې**

رښتیا ووایاست تاسو چې اوس په کوم ځای/مقام کې یاست، څه مسوولیت لرئ؟ هغه په ښه ډول ترسره کوئ؟ د خور/ورور، ښځې/خاوند، پلار/مور، لور/زوی، دوست، همکار او ... پر ځای کوم کارونه باید ترسره کړئ ؟ اووه اغېزې یې وټاکئ او په هغوی یې واچوئ.

**۱۰- اړین**

ستا په هرو اووه اغېزو کې کوم کسان ستا لپاره مهم دي؟ د خپلو اړیکو د ژوند د مهماتو ساتونکي باید و اوسو دا اړیکې هر څه دي.

**۱۱ - مهمترین**

هغه څوک دی چې تاسو ورسره تر ټولو مهمه اړیکه لری؟ له هغه څخه څه تمه لری؟ یا هغوی له تاسو څخه څه تمه لري؟ د څه په خاطر ته له هغو څخه منندوی یې او یا غواړې ترې مننه وکړې؟ ترسره یې کړه.

**۱۲ - پي ایم ایس**

پي ایم ایس د Personal mission statement مخفف دی چې ستاسو له شخصي موخو سره لږ توپیر لري، خو له تاسو سره د پیسو، وخت او ځواک په مدیریت کې مرسته کوي او تاسو له ګډوډې څخه ساتي. پي ایم ایس په اصل کې تاسو ته ښیي چې د ژوند په هر لوري کې ستاسو رسالت او ماموریت کې کوم/څه دی. د مثال په ډول، زما په اړیکو کې پي ایم ایس دا دی چې له خلکو سره ښه او نرم چلند وکړم، منطقي واوسم او هغوی درک کړم. پي ایم ایس مو په ښه ډول سره ښایي چې تاسو څه ډول کس یاست او څه ډول کس جوړېدل غواړئ. ستاسو پي ایم ایس کولای شي د یوې لنډې جملې یا د یو کتاب په اندازه اوچت وي.

**۱۳- برابروالی**

ژوند مو په تعادل/برابروالي کې وساتئ، دا برابروالی د پوهې په اغېز، دندو او موخو پسې ځي، هڅه وکړئ چې د ژوند د هر لوري لپاره پوره وخت او انرژي پربېږدئ.

**۱۴ - خپل ژوند ته مانا ورکړئ**

ژوند ته مو موخه، لوری او مانا ورکړئ. لکه، ټول هغه څه چې ویل شوي، ترسره کړئ، د پي ایم ایس سر او پای په خپله پیدا کېږي. هڅه وکړئ چې هغه خپل ورځني ژوند کې ته داخل کړئ او هڅه وکړئ چې ترسره یې هم کړی.

**۱۵ - زما د ژوند کیسه**

کښېنئ او د خپل ژوند کیسه واورئ، دا چې څه غواړی؟ راتلونکی به مو څه ډول وي؟ زما دنده، کار، کورنۍ او... به څه ډول وي، ویې ولیکئ.

**۱٦- موخه**

پوهېږئ چې له موخې پرته څه کېږي؟ غوره ده چې د بې موخې خلکو ژوند او کله نا کله خپل تېر ژوند ته وګورو، احتمالاً موږ ټولو بې موخې ورځې او د هر څه چې په مخه راغلي، تجربه کړې مو دي او پوهېږو چې بې موخې مخکې تګ پرته له ناکامۍ بل څه نه لري. خپلې موخې مو ولیکئ او تل یې وڅارئ، خپلې موخې مو له ځان سره وساتئ او هېڅ کس او هېڅاته اجازه مه ورکوئ چې هغه له تاسو څخه واخلي.

**۱۷- موخې مو ولیکئ**

د موخو لیکل له ځان سره ډېره ګټې لري. د مثال په ډول، که موخې مو د کاغذ پر مخ ولیکئ، وبه وینی چې په ښه، ښکاره او پاک ډول درته ښکاري، پر دې سربېره هغه څه چې د سترګو پر وړاندې ښکاره وي، د ترسره کېدو چانس یې ډېر وي.

**۱۸ لوړ/ډېر وختونه**

د ډېر وخت موخې مو ځانګړې کړئ او هغه په ورو ټوټو ووېشئ. موخې باید کومې ځانګړنې ولري؟ ځانګړې وي، د درک او ترسره کېدو وړ وي، رښتینې وي، د وخت لرونکې وي. یعنې په یو ځانګړي وخت او نېټه یې باید لاسته راوړئ، لویې وي، لویې موخې هغه دي چې لږ مو وویروي او یوه نړۍ خوښي درکړي. د مثال په ډول، که له موخو څخه یوه مو دا وي چې د خپل کار په اړه یو کتاب ولیکئ، باید خپل معلومات بشپړ کړئ، زده کړئ چې څه دول کتاب ولیکم/ولیکو، له یو خپروونکي سره اړیکه ونیسئ او ....

**۱۹ ورځنی یا اونیز پلان؟**

پلان که ورځنی وي، ښایي په ناڅاپي ډول له یوه کار سره مخ شو چې د ټولې ورځې پلان تر اغېز لاندې راولي، په دې سره باید ووایو چې پلان باید اونیز وي. د اونیز پلان لپاره یوه ورځ ځانګړې کړئ؛ مثلاً، جمعه یا هم په یادانښت او کلیزه کې یې خپل مخته کېږدئ، له ډېرو لویو او درنو کارونو څخه کرښې تاو کړئ، په دې صورت کې به د هغوی لپاره به حتماً وخت پیدا کړئ.

د خپلو اوو اغېزو له مسوولیتونو څخه، هغه کارونه چې په اونۍ کې یې باید ترسره کړئ، د کاغذ پر مخ ولیکئ او وخت ورته وټاکئ. ځېر اوسئ چې اونیز پلان ترلی وي، یعنې ممکن تاسو ونه شی کولای د نن کار ته رسېدنه وکړئ، خو سبا یې وکړئ. د هغې اونۍ کارونه په ورځو ووېشئ او وروسته د هرې ورځې کارونو ته لومړیتوب ورکړئ او خپله ټوله هڅه وکړئ چې هغه ترسره کړئ.

دا وړاندیز درته کوم چې د خپلو کارونو د ترسره کولو لپاره یو رسید جوړ کړئ. کارونه مو پکې ولیکئ، ترڅو د ترسره کېدو لپاره یې چانس ډېر وي.

**۲۰ - په خپل پلان کې بند پاتې نه شی**

لکه څنګه چې وړاندې ویل شوي، دا پلان ترلی دی. پلان د دې لپاره دی چې تاسو په سیده لار برابر کړي. که څه هم غوره دا ده چې ټول هغه ترسره کړئ، خو کله نا کله د لږ اهمیت لرونکو برخو څخه تېر شئ، په یاد مو وي چې پلان مو د وېرې او اضطراب د خلاصون لپاره دی، اجازه مه ورکوئ چې د یو امر نه ترسره کول په تاسو کې د بد عذاب، وېرې یا بد احساس لامل شي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۲٦مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۱٦مه | ٦٤٧مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ۵ | ۸ | ۱۱ | ۱۳ | ۵ |
| -۷ | ۲ | ۳ | ۱ | ۰ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۴ | لمر ختل ۰٦:۵۲ | ماسپښین ۱۱:۴۹ | مازیګر ۰۲:۲۷ | ماښام ۰٤:۴۵ | ماخوستن ۰٦:۱۵

## نړۍ




## مشرانوجرگه: مراحل بعدی مذاکرات با طالبان در داخل کشور صورت گیرد



مشرانوجرگه، ضمن حمایت از پیشنهاد حکومت مبنی بر برگزاری مراحل بعدی مذاکرات در داخل کشور، از هیأت های دوطرف خواستند که به منظور قطع فشار خارجی ها در این روند، مرحلهٔ بعدی را در داخل کشور به پیش ببرند.

این در حالی است که در نخست، حمد الله مُحب مشاور شورای امنیت ملی و سپس محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور، خواهان پیشبرد مذاکرات صلح در داخل کشور شده اند.

مذاکرات صلح بین تیم های مذاکره کننده دولت و طالبان، حدود سه ماه پیش در دوحه آغاز شده و این تیم ها پس از حدود هشتاد روز گفتگو، تنها روی طرزالعمل گفتگوها توافق نموده و اکنون روی اجندای مذاکرات کارمی کنند.

دو روز پیش، هر دو هیأت اعلام کردند که برای مشورهٔ بیشتر روی پیشنهادات دو طرف که در مورد آجندا ارایه شده، بعد از سه هفته مذاکرات را آغاز می کنند. در نشست دیروز مشرانو جرگه در این مورد بحث شد.

گلالی اکبری نمایندهٔ مردم بدخشان در مشرانو جرگه، در اشاره به توقف مذاکرات برای سه هفته، اظهار امیدواری کرد که مرحله بعدی مذاکرات، در زمان تعیین شدهٔ آن دوباره آغاز شود.

او گفت بهترهمین است که مرحلهٔ بعدی مذاکرات در داخل افغانستان برگزار شود و هر جایی را که طالبان انتخاب می کنند، باید حکومت امنیت همان منطقه را تامین کند تا مذاکرات بدون مداخله و فشار خارجی ها به پیش برده شود.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۷۳ میلیونو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۷۳ میلیونه او ۳۲۹زره او ۳۴ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او٦۳۰ زره او ۸٦۷ کسان مړه شوي او له ۵۱ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱٦ میلیونه او ۹۴۳ زره او ۸۹۷ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۳۰۸ زره او ۹۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۹۰٦ زره او ۵۰۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۹۲۹ زره او ۴۰۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د دوه میلیونه او ۷۰۷ زره او ۹۴۵ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۳۷۹ زره او ۹۱۵ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

دغه راز برېتانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## چاوش اوغلو: له هېڅ بندیزه نه وېرېږو، خپلې ګټې مو سره کرښه ده

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاوش اوغلو ویلي چې د خپلو حقونو تر لاسه کولو لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړي او په وینا یې، دوی په دې برخه کې د اروپا او هېڅ کوم بل هېواد له بندیزه وېره نه لري.


هغه زیاته کړې، اروپایي ټولنه هڅه کوي چې د بندیزونو په وضع کولو ترکیه د خپلو حقونو له ترلاسه کولو شاتګ ته اړ کړي، خو په وینا یې، دوی هېڅکله له چا نه وېرېږي او په هېڅ صورت به له خپلې سرې کرښې چې د ترکیې ګټې دي، یوه لوېشت هم شاته نه شي.

اوغلو د خپلو خبرو پر دوام ویلي، د ترکیې د فعال بهرني سیاست له برکته هېڅ هېواد د افغانستان او عراق په ګډون په ډېر شمېر هېوادونو کې د خپلسرو پرېکړو اقدام نه شي کولی. هغه زیاته کړې، هېڅوک نه شي کولی د ترکیې لاس لاندې کړي او خبرداری یې ورکړی چې په غیر قانوني توګه د مدیترانې لور ته غځېدونکی هر لاس به غوڅ کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې اروپایي ټولنې خبرداری ورکړی چې که ترکیه له پاروونکو اقداماتو لاس وانه خلي، سخت بندیزونه به پرې ولګول شي.

## ژوند


## یوازې پخپله مو حالت ته بدلون ورکولای شئ؟



ایا له یوه اړخیز ژونده ستړي شوي یاست او فکر کوئ چې څنګه کولای شو په خپل ژوند کې مثبت بدلون راولو؟ په هر صورت، ستاسو ژوند د یوې دایرې په څېر دی، هره ورځ څرخي او د ژوند ورځې دې یو پر بل پسې تېرېږي، کله مو چې احساس کړه چې ژوند درته یو اړخیز شوی او غواړې بدلون پکې راولې، نو پرېکړه وکړئ. که پرېکړه نه شي کولای، یوازې خبرې او شکایتونه کوئ، داسې ده لکه فلم چې دوه یا څو ځلې یې ګورئ.

زړه مو غواړي چې بې له ځنډه خپل ژوند بدل کړئ، خو نه پوهېږئ چې څه وکړئ، همدې (څه وکړئ؟) درته ژوند سخت کړی دی. پر دې باید پوه شئ چې هېڅ شی هم بدلون نه کوي، ترڅو چې خپله ونه غواړئ. حالات، د ځان او نورو ملامتول نه شي کولای چې ستاسو په ژوند کې بدلون راولي. که په زړه کې د ډېرو شیانو د درلودو غوښتونکي یاست او د زړه له تله ونه غواړئ او خپل بخت پلمه کړئ تاکلو موخو ته نه شئ رسېدای.

## شیاومي د مي لړۍ موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کوي



په دې وروستیو کې کوالکام کمپنۍ له خپل نوي او تر ټولو پیاوړي پروسېسر، سنپ ډراګن۸۸۸ څخه پرده پورته کړه او شیاومي به له هغو کمپنیو څخه وي چې په نږدې راتلونکي کې دغه پروسېسر لرونکي ځیرک موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کړي. شیاومي کمپنۍ هم رسماً تایید کړې چې غواړي د مي لړۍ دوه نوي او پیاوړي ځیرک موبایلونه چې شیاومي مي۱۱ او شیاومي مي۱۱ پرو نومول شوي، له سنپ ډراګن۸۸۸ ډوله پروسېسر سره خرڅلاو ته وړاندې کړي.

د دغو ځیرکو موبایلونو په اړه د شیاومي یو بنسټ ایښودونکي او اوسني اجراییوي مشر وویل چې شیاومي مي۱۱ به یو له څو ځیرکو موبایلونو څخه وي چې نږدې راتلونکي کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۸۸۸ ډوله پروسېسر سره خرڅلاو ته وړاندې کېږي. د راپورونو له مخې، د شیاومي مي۱۱ ځیرک موبایلونه به د ۲۰۲۱ز کال په جنورې کې کاروونکو ته معرفي او خرڅلاو ته وړاندې شي. دغه ځیرک موبایلونه به په شاتنۍ برخه کې درې کمرې ولري چې ۱۰۸ مېګاپېکسله اصلي کمره او۴۸ مېګاپېکسله الټراوایډ اېنګل کامره به پکې وي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

